**مطبوعاتي اعلاميه**

**د تونس واکمنان په جوماتونو کې د الله سبحانه وتعالی له نوم اخیستو څخه، خلک منع کوي**

**(ژباړه)**

﴿**قَاتَلَهُمُ اللهُ أَنَّى يُؤْفَكُونَ**﴾ [منافقون: ۴]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی د دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کېږي.*

د خلکو پر وړاندې د تونس د واکمنانو ظلم او زور زیاتی خپل اوج ته رسېدلی دی. دوی دا ځل د روژې په سپېڅلې میاشت کې جوماتونه په نښه کړل او مسلمانان یې د مغرب، عشا، تراوېح او فجر له لمانځونو څخه منع کړل. په رسټورانټونو کې خلک د خوړو پر میز له راټولېدلو څخه منع کوي او د اړمنو او بېوزلو خلکو د روژه ماتي مخنیوی کوي. نو ایا د کورونا ویروس ناروغي د اسلامي ارزښتونو او اصولو سره د مبارزې عذر ګرځېدلی!؟ له کوم وخت راهیسې دا واکمنان د انسانانو روغتیا ته پاملرنه کوي، چې پر خپلو فاسدو تګلارو سره یې دوی له لوږې سره لاس او ګرېوان کړي دي!؟ ایا همدا د دوی ناسمه پالیسي د کورونا ویروس د خپرېدو اصلي لامل نه ده؟

ولې دا واکمنان، چې د خلکو محور ګڼل کېږي، دا مني چې د جنوري او فبروري میاشتو کې د ناروغۍ ډېروالی د نوي کال د لمانځلو له امله و؟ ولې دا نه مني چې درېیمه څپه د لاریونونو له امله وه، چې د واک پر سر د جنګیالیو ډلو تر منځ سرکونو ته راووتل؟ ایا جومات ته تلونکي خلک او هغه چې معتبره ژوند لري د کورونا ویروس ناروغۍ د خپرېدو لامل دي؟

په جوماتونو کې خلکو د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره هغه شفاهي روغتیایي تدابیر په پام کې نیولي وو، چې د روژې له سپېڅلې میاشتې وړاندې د حکومت له لوري وضع شوي وو او مسلمانان یې د خپلو اسلامي مراسمو د تر سره کولو څخه منع کړي وو. د مخنیوي پر تګلاره ټینګار، د معاینې ډېروالی، د ناروغانو ګوښه کول او د ناروغانو لپاره د مناسب ځای چمتو کولو پر ځای، دولت د اسلام او ټولنې پر وړاندې خپله بې کفایتي په ډاګه کوي.

حزب التحریر ـ ولایه تونس د تونس واکمنانو ته د الله سبحانه وتعالی، المنتقم، الجبار د غضب په اړه خبرداری ورکوي چې فرمایي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُولَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآَخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾[بقرة: ۱۱۴]

***ژباړه:*** *او له هغه چا څخه به غټ ظالم څوک وي چې د الله سبحانه و تعالی په عبادت ځایونو (مسجدونو) کې د الله سبحانه وتعالی د نوم اخیستلو څخه منع کوي او د هغو د ورانولو په هڅه کې وي؟ دغه خلک د دې وړ نه دي چې په دې عبادت ځایونو کې قدم کېږدي او که ورهم شي ، له وېرې سره به ورشي. د هغوی لپاره خو په دنیا کې رسوایي او په اخرت کې لوی عذاب دی.*

اسلامي امت باید د دې اعمالو په اړه محتاط او اندېښنه ولري، د تدابیرو او مخنیوي تر نوم لاندې اقداماتو تر منځ او هغه څوک چې د دین پر وړاندې دسیسو لپاره دا د عذر په توګه ګڼي باید توپیر وشي، د رمضان روژه نیول او د دغه دیني مراسمو په پام کې نیول د اسلام له پینځو بناوو څخه یوه بلل کېږي. موږ ته نه ښایي چې د دغه مراسمو تر برید لاندې نیولو په اړه غلي واوسو. دا د هر مسلمان مسوولیت دی چې د دې ناحقه قواعدو پر وړاندې ودرېږي او د خپل دین دفاع وکړي او د خپل رب له حرمتونو څخه د سرغړونې لپاره په قهر شي.

﴿ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ﴾[حج: ۳۲]

***ژباړه:*** *دغه اصلي موضوع ده (وربانديې پوه شئ) او څوک چې د الله سبحانه و تعالی د ټاکلیو شعایرو درناوی وکړي، نو دا د زړونو له پرهېزګارۍ څخه ده.*

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿يُرِيدُونَ أَنْ يُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلا أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾[توبه: ۳۲]

***ژباړه:*** *دا خلک غواړي چې د الله سبحانه و تعالی رڼا په پوکیو سره مړه کړي. خو الله سبحانه و تعالی د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونکی نه دی، که کافرانو ته دا هر څومره هم ناکاره وبرېښي.*

**د حزب التحریر۔ ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د شعبان ۲۸مه**

**۲۰۲۱م، د اپریل ۱۰مه**

**د صدور گڼه: ۳٦/ ۱۴۴۲**